# د رجب

## میاشت به څنګه تیروو؟

20-February-2020



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښي کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

# د رجب میاشت به ښنکه تیروو؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاوٰی شامی**" کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

# د دُرود شريف فضيلت

زمونږ خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰـی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغے د سختے ويرے او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه کس وي چا چه تاسو کښے په ما باندے دُنيا کښے کثرت سره درود شريف لوستلے وي. (اَلْفِردَوس بمأثور الْخِطاب، ۵/۲۷۷ حديث:۸۱۷۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

# د بيان اوريدلو نيتونه

۞ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بيان واورئ ۞ پوره تَوَجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوکړئ ۞ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] .... معجمِ کَبِير سهل بِن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حديث ۵۹۴۲

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده ”**د رجب میاشت ځنګه تیرول پکار دي؟**“. په دے بیان کښے به مونږه اورو چه دا مبارکه میاشت ځنګه تیرول پکار دی؟ د دُعا د قبلیدو د پاره پینځه اهمے شپے کومے دي؟ د رجب روژے نیولو والا نیکانو صالِحانو به په څومره شوق او جذبه د رجب روژے نیولے، خاص طور د رجب په میاشت کښے کوم کوم وظائف لوستل پکار دي؟ په ډیره توجه سره پورا بیان د اوریدلو کوشش اوکړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه د ډیرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د رجب په میاشت کښے د دُعا قبلیدل

حضرت سَیِّدُنا عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا ارشاد فرمائي چه زه د **اَمیرُالۡمُؤۡمِنِین** حضرت سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په خوا کښے موجود ووم او هغوئي خلقو ته د هغوئي کوائف ښودل. په دے دوران کښے د هغوئي په خوا یو داسے بوډا تیر شو چه هغه ړوند او ګوډ و، د هغه نه مخکښے مخکښے یو بل سړے روان وو او هغه دا ګوډ نابینا سړے په سختئ سره په راښکلو روان کړے وو. حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چه دا منظر اولیدلو نو اوئے فرمائیل چه: ما داسے بد منظر د نن نه مخکښے کله هم نه وو لیدلے.

د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہ خوا ته ناستو خلقو کښې یو کس اووئیل چه: اے **اَمیرَالْمُؤمِنِین!** آیا تاسو دا پیژنئ؟ هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائیل: نه. هغه اووئیل: دا **اِبنِ صَبغاء** دے، او په ده د **بَرِیق** ښیرے لګیدلي دي. حضرت سَیِّدُنا عمر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائیل: **بَرِیق** خو د هغه لقب دے خو د هغه اصل نوم څه دے؟ خلقو اووئیل چه: د هغه نوم "**عِیاض**" دے. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائیل چه: عِیاض زما خوا ته راولئ. چه کله هغه راغلو نو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہ هغه ته اوفرمائیل چه: ما ته خپله او د بَنُو صَبغاء واقعه واوروه. هغه عرض اوکړو: اے **اَمیرَالْمُؤمِنِین!** هغه د جاهلیت د زمانے مُعامَله وه او د هغے قصّه ختمه شوي ده، اوس خو اللّٰه پاك د اسلام رنړا خوره کړي ده. حضرت سَیِّدُنا عمر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائیل: اللّٰه کریم دِ مونږ ته مُعافي اوکړي، د کله نه چه اللّٰه پاك مونږ ته د دِینِ اسلام په ذریعه عِزَّت راکړے دے د هغے نه پس مونږ سره دا نه ښائي چه مونږه د جاهلیت د زمانے د کومے مُعامَلے په باره کښے خبرے اوکړو خو بیا هم تاسو خپله او د بَنُـو صَبغاء (عبرتناکه) واقعه بیان کړئ. عیاض واقعه شروع کړه، او اوئے وئیل چه: اے **اَمیرُالْمُؤمِنِین!** د صَبغاء لس ځامن وو او زه د هغوئي د تره ځوئ ووم، زما په ورونړو کښے زما نه علاوه بل یو هُم نه وو پاتے شوے. زه د خپل تره د ځامنو په ګاونډ کښے اوسیدلم، هغوئي زما په پورا قوم کښے زما د ټولو نه نِزدے خپلوان وو. هغوئي به په ما ظلم او زیاتے کولو او زما مال به ئے زما نه په ناحقه په زور اخستلو، ما به هغوئي ته وئیل چه د اللّٰه نه اویَریږئ، د خپلولئ او ګاونډ په خاطر په ما ظلم مه کوئ. خو د هغے باوجود به هغوئي په ما ظُلم کولو. بس بیا ما هغوئي په خپل حالت

پرېښودل، بیا چه کله د حُرمت (یعني د عظمت او بُزګئ) والا میاشت (رجب) راغله [1] نو ما لاسونه اوچت کړل او هغوئي ته مے [داسے] ښیرے اوکړے:

"یا **الله**! زه د زړه نه دا دُعا کووم چه ته د یو نه علاوه د صَبغاء ټول ځامن هلاك کړے او هغه یو ګوډ او ړوند کړے او چه یو داسے سړے وي چه هغه په سختئ سره راښکاړي او ګرځوي ئے." بس په هم هغه کال هغوئي یو یو مړ کیدو او دغسے نهه مړه شو او یو پاتے شو او هغه ړوند شو، او په ښپو شل شو، څنګه چه تاسو [اوس د هغه حالت] وینئ، او څنګه ئے چه هغه بوتللو رابوتللو والا کس په کومه سختئ بوځي رابوځي هغه هم تاسو وینئ. حضرت سَیِّدُنا عمر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائیل: بےشکه دا ډیره زیاته عجیبه واقعه ده. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دے واقعه کښے په خلقو باندے ظلم و سِتم کولو والؤ د پاره ډیر عبرت دے، په خلقو بے وجه رُعب اچولو والؤ او خپل طاقت ښودلو والؤ ته پکار دي چه د مظلوم د فریاد نه اویریږي، په دے حکایت کښے د خپل منصب نه ناجائزه فائده اوچتولو والؤ، او د غریبانانو او کمزورو خلقو ویرولو والؤ او ظلم او زیاتے کولو والؤ د پاره هم ډیر عبرت دے، ځکه چه کله مظلوم د **الله** پاك په بارګاه کښے د ظالم خلاف فریاد اوکړي نو د هغه فریاد قبلیږي او ظالم ډیر زر خپل انجام ته رسي څنګه چه په

1 ...تاریخ ابن عساکر، 81/45

2 ...کتاب البر و الصلة لابن جوزی، الباب الثلاثون فی ثواب صلة الرحم۔۔۔الخ، ص167

حدیثِ پاك کښے دي: اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَ بَيْنَ اللهِ حِجَابٌ یعني د مظلوم د ښیرو نه اویَریږئ! بے شکه د هغه د ښیرو او د الله پاك په مینځ کښے هیڅ رکاوټ نشته.[1]

د دے بیان شوے واقعے نه دا هُم معلومه شوه چه د رَجَبُ الْمُرَجَّب میاشت د دُعاګانو د قبلیدو د پاره ډیر اهمیت لري څنګه چه د تاریخِ اِبنِ عَساکِر په یو اوږد روایت کښے دي چه: په زمانه جاهلیت کښے به هم خلقو د دے میاشتے تعظیم کولو، په هغوئي باندے به چه کوم ظُلمونه شوي وو د هغے خلاف به ئے [په نورو میاشتو کښے] هیڅ ښیرے نه کولے خو چه د رَجَبُ الْمُرَجَّب میاشت به راغله نو د ظالم خلاف به ئے دُعا کوله او د هغوئي هغه دُعا به قبوله شوه.[2]

حضرت امام زکریا قزویني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او شارِحِ بُخاري حضرت امام قَسطلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیان کوي چه په ډیرو احادیثو کښے د رَجَبُ الْمُرَجَّب د میاشتے عظمت او شان راغلے دے په دے کښے عبادتونه هُم قبلیږي او دُعاګانے پکښے هُم قبلیږي، په زمانه جاهلیت کښے به چه یو مظلوم کس ظالم ته ښیرے کول غوښتل نو خپله اراده به ئے د رَجَب د میاشتے پورے وروسته کړله او د رَجَب په راتلو به ئے چه د ظالم خلاف دُعا اوکړله نو هغه دُعا به قبلیدله.[3]

---

1 ...بخاری، کتاب المظالم و الغصب، باب الاتقاء و الحذر۔۔۔الخ، 2/128، حدیث:2448

2 ...تاریخ ابن عساکر، 45/81

3 ...عجائب المخلوقات، ص69۔لوامع الانوار، الباب الثالث۔۔۔الخ، الدعاء فی شهر رجب، ص260 مفهوماً

## د دُعا د قبلیدو پینځه اهمے شپے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دُعا په قبلیدو کښے پینځه شپے ډیر اَهَمِّیَّت لري څنګه چه حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہما فرمائي: پینځه شپے داسے دي چه په هغے کښے دُعا نه رَد کیږي: (1) د جُمُعے شپه (2) د رَجَب ورومبنۍ شپه (3) د پینځلسم شعبان شپه یعني شبِ براءت (4) د د وړوکي اختر شپه (5) د غټ اختر (یعني د ذُوالحِجَّه لسمه) شپه. [1]

## د رجب د نوم ایښودو وجه

د حُرمت په میاشتو کښے یوه **رَجَبُ الْمُرَجَّب** هم ده، چه د اسلامي میاشتے وومه میاشت ده. رجب په اصل کښے د تَرْجِیْبٌ نه مُشتَق (یعني وتلے) دے چه معنیٰ ئے ده: تعظیم و تکریم، رجب ته رجب په دے وجه هُم وائي چه دے میاشتے ته عظمت ورکړے شوے دے هم دا وجه ده چه دے ته **رَجَبُ الْمُرَجَّب** (یعني هغه د رجب میاشت چه د هغے تعظیم شوے وي) هم وائي.

علامه عبدُ الکریم بن محمد رافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي چه رَجَب ته د رَجَب وئیلو وجه دا ده چه د عرب خلقو به د دے میاشتے ډیر زیات تعظیم کولو او په دے [میاشت] کښے به ئے جنګ جګړے کول حرام ګڼړل. [2]

---

[1] ...مصنف عبدالرزاق، کتاب الصیام، باب النصف من شعبان، 246/4، حدیث: 7957۔لوامع الانوار، الباب الثالث فی اذکار۔۔۔الخ، الدعاء فی شهر رجب، ص259 بتقدم و تاخر

[2] ...التدوین فی اخبار القزوین، 165/1

د رَجَب بل نوم **شَهۡرُ اَصَمّ** دے (یعني دے کنړه میاشت هم وائي) ځکه چه په دے کښے د جنګونو آواز بالکل نه اوریدلے کیږي. (مُکاشَفۃُالقُلوب ص۳۰۱)

اعلٰی حضرت شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په **فتاوٰی رَضَوِيَّه** کښے د دے نوم وجه څه داسے ارشاد فرمائي چه: هره میاشت به د خپلو هر قِسمه واقعاتو ګواهي ورکوي سوا د رَجَب نه چه حَسَنات (یعني نیکئ) به بیانوي او د ګناهونو په ذِکر به وائي چه زه کنړه ووم ما ته خبر نشته دے. ځکه دے ته "**شَهرٌ اَصَمّ**" هم وائي.[1]

عارف بِالله شیخ ضیاءُ الدین عبدُ العزیز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د بعضے علماء نه نقل کوي: چه د جاهلیت په دور کښے به خلقو (د رجب په میاشت کښے) نیزے پټے کیښودے او جنګ به ئے نه کولو نو مسلمانان په دے کښے د خپلو ژبو حفاظت ولے نه کوي او د بے حُرمتئ نه ولے نه منع کیږي. بیشکه بعضے وخت ژبه د تُورے او نیزے د پَل نه زیاته نقصان ورکوي.[2]

## په ماهِ رَجَب کښے فیضانِ رَحمت

حضرتِ سَیِّدُنا امام محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه او حضرتِ سَیِّدُنا شیخ شهابُ الدِّین احمد بن حِجازي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د **رَجَبُ الۡمُرَجَّب** په باره کښے فرمائي: دے ته **اَلۡاَصَب** (یعني تیز بَهیدل) هم وائي ځکه چه په دے مُبارکه میاشت کښے په توبه کوونکو باندے د

---

1. ...فتاوی رضویه، 496/27
2. ... طهارة القلوب ، الفصل الثاني عشر في التقوی، ص125

رحمتونو رابهيدل تيز شي او په عِبادت کوونکو باندے د قبُولِيَّت د اَنوارو برکتونه کيږي.[1]

د اَصَم او اصب نه علاوه د دے مياشتے نور نومونه هُم دي. چنانچه په **لطائفُ الْمَعارِف** کښے د دے **17** نومونه ذکر کړے شوي دي.[2] لکه :**شَهْرُالله**، **مُنْصِلُ الْاَسِنَّة**، **اَلْاَصَبّ**، **مُطَهِّر**، **مُعَلّٰى** وغيره او حضرت امام ابو الخطاب عمر بن حسن ابنِ دَحيه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دوو نورو نومونو اضافه کړي ده.[3]

## رَجَب د خير ښيګړے کُنجي

حضرت علامه يوسف بن عبدُ الهادي حَنبلي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د رجب مياشت د خير او برکت کُنجي ده. حضرت ابوبکر ورّاق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: **رَجَبُ الْمُرَجَّب** (د عبادت) د تُخم کَرَلو مياشت ده، **شَعْبانُ الْمُعَظَّم** د اُوبه خوَر (يعني د اوبو ورکولو يعني په اوښکو باندے سيراب کولو) مياشت ده او **رَمَضانُ الْمُبارَك** د (رحمت) د فَصل پريك کولو مياشت ده.[4] په **لَطائفُ الْمَعارِف** کښے دي چه: د رجب مياشت د هوا په شان، د شَعبان مياشت د وريځو په شان او د رَمَضان مياشت د باران په شان ده. يو بُزرګ فرمائي: کال د ونے په شان دے، په **رَجَبُ الْمُرَجَّب** کښے پاڼړے نيسي، په **شَعْبانُ الْمُعَظَّم** کښے خاخونه

[1] ...مکاشفة القلوب، الباب المتمم للمائة في فضائل رجب، ص301۔تحفة الاخوان، ص12

[2] ...لطائف المعارف، ص132

[3] ...اداء ماوجب لابن دحية، ص 3531

[4] ...معارف الانعام وفضل شهور والايام، ص95۔لطائف المعارف، ص138

کوي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښے ترينه ميوه شوکولے کيږي يعني مسلمانان د دے نه ميوه شوکوي.

د دے نه پس هغوئي د فِکرِ آخرت کولو د ذِهن جوړولو د پاره ارشاد فرمائي: چا چه په ګناهونو خپله اعمال نامه توره کړي وي هغه دِ په دے مياشت کښے توبه اوکړي او خپله اعمال نامه دِ روښانه کړي، چا چه په فضولو څيزونو کښے خپل عُمر برباد کړے وي هغه دِ پاتے عمر غنيمت اوګڼړي.[1]

د رجب په مياشت کښے ډير عبادت کولو والؤ باندے د الله پاك څنګه فضل و کرم کيږي د دے اندازه د دے حکايت نه لګولے شئ چنانچه

## په رجب کښے د نيك عمل برکت

په **بَيْتُ الْمُقَدَّس** کښے به يوے زنانه د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** په هره ورځ کښے دولس زره ځله سُوْرَۃُ اِخلاص (**قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد** پوره سورت) لوستلو او په دے پوره مياشت کښے به ئے د وړئ جامے اغوستلي. يو ځل هغه بيماره شوه هغے خپل ځوئ ته وصيت اوکړو چه ما به هم دے د وړئ په جامو کښے خخه کړے. چه کله وفات شوه نو د هغے ځوئ هغے ته د ښه رَخت [يعني ښو کپړو] کفن ورواغستو، د شپے ئے په خوب کښے خپله مور اوليدله، هغه ورته وائي: زه ستا نه خوشحاله نه يم ځکه چه تا زما په وصيت عمل نه دے کړے. هغه اوېَريدو او راپاڅيدو، د خپلے مور هغه جامے ئے راواخستے چه دا هم ورسره په قبر کښے خخے کړي، هغه لاړو او د مور قبر ئے اوکنستو خو په قبر کښے هيڅ هُم نه وو

---

[1]... لطائف المعارف، ص138

[یعني مور ئے په قَبْر کښے نه وه]، هغه ډېر زيات حيران شو بيا ئے دا غږ واوريدو: آيا تا ته معلوم نه دي چه چا په رجب کښے زمونږه اطاعت کړے دے، مونږه هغه يواځے نه پرېږدو.[(1)]

## په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښے دُعائے نَبَـوِي

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہ فرمائي: چه د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** میاشت به راغله نو نَبِيِّ اکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعا کوله: **اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ**[(2)] ترجمه: اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! ته زمونږه د پاره په رَجَب او شَعبان کښے بَرَکتونه واچوے او مونږ ته رَمَضان نصيب کړے.

**مُفسّرِ قرآن،** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دے حديثِ پاك په شرح کښے فرمائي: صوفيائے کرام عَلَيْهِمُ الرَّحمة فرمائي: چه **رَجَبُ الْمُرَجَّب** د تُخم کَرَلو مياشت ده، **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** د اُوبه خوَر مياشت ده او **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د فَصل پريك کولو [مياشت ده] چه په رجب کښے په نوافلو کښے ښه کوشش اوکړئ، په شعبان کښے په خپلو ګناهونو باندے اوژاړئ او په رَمَضان کښے ربّ تعالیٰ راضي کړئ او دا پټے په خير سره اوريبئ، د هغوئي د دے قول ماخذ دا (بيان شوے) حديث دے يعني په رجب کښے زمونږ په عبادتونو کښے برکت راکړے او په شعبان کښے خشوع او خضوع راکړے، او رمَضَان رانصيب کړے او په دے کښے روژے نيول او قيام کول رانصيب کړے.[(3)]

---

[1] ...مکاشفة القلوب، الباب المتمم للمائة فی فضائل رجب، ص302۔ تحفة الاخوان، ص 11

[2] ...معجم اوسط، من اسمه علی، 85/3، حديث: 3939۔ لوامع الانوار، الباب الثالث فی اذکار۔۔۔الخ، الدعاء فی شهر رجب، ص260

[3] ...مرآة المناجیح، 330/2 بتغیر

## د فضیلت والا زمانه حاصلولو دُعا مستحب ده:

د دے حدیثِ پاك نه معلومه شوه چه د نیکو اعمالو د پاره فضیلت لرونکي زمانے پورے د ژوندي اوسیدلو دُعا کول مُسْتَحَب دي ځکه چه د مومِن بنده عمر زیاتیږي نو په د هغه نیکئ زیاتیږي او په خلقو کښے بهتر سړے هغه دے چه د هغه عمر اوږد او عمل ئے ښه وي. بُزرګانِ دین عَلَیْهِمُ الرَّحمة به دا خوښوله چه د هغوئي مرګ د نیکو اعمالو کولو نه پس راشي لکه د رَمَضان د روژے نیولو نه پس او د حج نه بیرته راتلو نه پس چه مرګ راشي. دا خبره به کیدله: چه څوك داسے وفات شي هغه اوبخښلے شي. (1)

## په رجب کښے د مرګ خواهش کولو والا عالِمِ دین

یو نیك عالِمِ دین د رَجَبُ الْمُرَجَّب د میاشتے نه مخکښے بیمار شو، هغه عالِم صاحب اوفرمائیل چه: ما د الله پاك نه سوال کړے دے چه زما مرګ د رَجَبُ الْمُرَجَّب د میاشتے پورے وروسته کړے ځکه چه ما ته دا خبر را رسیدلے دے چه په د رَجَبُ الْمُرَجَّب په میاشت کښے الله پاك بندګان د (دوزخ نه) آزادوي. چنانچه الله پاك هغوئي ته د رَجَبُ الْمُرَجَّب میاشت عطا کړه او د رَجَبُ الْمُرَجَّب په میاشت کښے وفات شو. (2)

## رجب د الله میاشت ده

زمونږه خوږ آقا مکّی مَدَنی مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: رَجَبٌ شَهْرُ اللهِ

---

[1]... لطائف المعارف، ص138

[2]... لطائف المعارف، ص138

**تَعَالٰی وَشَعْبَانُ شَهْرِیْ وَرَمَضَانُ شَهْرُاُمَّتِیْ** يعنى رجب د **الله** پاك مياشت ده، شعبان زما مياشت ده او رمضان زما د اُمّتيانو مياشت ده. [1]

هسے خو هره مياشت د الله پاك مياشت ده، خو په حديثونو كښے خاص طور رجب ته د **الله** پاك مياشت ولے وئيلے شوي ده، د دے حكمت علامه عبدُ الرؤف مناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه داسے بيان كړے دے چه: ماهِ رجب **الله** پاك طرف ته منسوب كول د دے مياشتے په شرافت و عظمت باندے دلالت كوي. [2]

شيخ شِهابُ الدّين احمد بن حِجازى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دے حديثِ پاك ذِكر كولو نه پس فرمائي: حرمت والا درے مياشتے (**ذُوالْقَعْدَة،ذُوالْحِجَّة اومُحَرَّم**) خو پرله پسے دي او يوه مياشت يواځے ده، هغه د رجب مياشت ده. صوفيائے كرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم فرمائي: بيشكه الله يواځے دے او د الله پاك مياشت هم يواځے ده، لِهٰذا الله پاك سره محبت كوونكو ته پكار دي چه هغوئي خپل محبت د يواځے سره اوساتي چه په دُنيا كښے په هغه كښے د يواځے [يعني د **الله**] د عبادت صلاحيت پيدا شي او د آخرت د پاره پكښے د يواځے [يعني د **الله**] د ديدار قابليت پيدا شي. [3]

## دولسو مدني كارونو كښے يو مَدَني كار "مَدَني مُذاكَره"

ياد ساتئ! د ذيلي حلقے دولسو مَدَني كارونو كښے يو مَدَني كار "**هفته واره مَدَني**

---

1 ...مسند الفردوس، باب الراء، 2/275، حديث:3276

2 ...فيض القدير، حرف الراء، 4/24، تحت الحديث:4411

3 ...تحفة الاخوان، ص 11، 12

**مُذاکَره**" هُم ده. د دې مَدَني کار بيشميره دِيني او دُنياوي فائدې هُم دي، ۞ د **مَدَني مُذاکرې** په بَرَکت ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن جوړيږي ۞ د **مَدَني مُذاکرې** په بَرَکت عِلمِ دِين حاصليږي ۞ د **مَدَني مُذاکرې** په بَرَکت ديني معلوماتو سره سره اخلاقي تربِيَّت هُم نصيب کيږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ډيرو اسلامي ورونړو د **مَدَني مُذاکرې** په بَرَکت د ګناهونو نه توبه کړي ده. راځئ چه نِيَّت اوکړو چه مونږه به هم هره هفته "**مَدَني مُذاکره**" ضرور د کتلو کوشش کوو او نورو اِسلامي ورونړو ته به هُم د **مَدَني مُذاکرې** کتلو دعوت ورکوو اِنْ شَآءَاللّٰه. ......

د هفته وارې **مَدَني مُذاکرې** نه علاوه مختلفو موقعو باندې هُم د **مَدَني مُذاکرو** سلسله کيږي، مَثَلًا د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** لس مَدَني مُذاکرې، د رَبِيْعُ الْاَوَّل (يعني د دولسمې شريفې) د مياشتې دولس مَدَني مُذاکرې، د رَبِيْعُ الْآخِر (يعني د يوولسمې شريفې) د مياشتې 11 **مَدَني مُذاکرې**، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې هره ورځ دوه **مَدَني مُذاکرې**، د **ذُوالْحِجَّةِ الْحَرام** د مياشتې 10 **مَدَني مُذاکرې**، د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** د مياشتې شپږ مَدَني مُذاکرې وغيره. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې مياشتې [يعني د رجب د مياشتې] وړومبو شپږو ورځو کښې به د ماسخُتن د لمانځه نه پس په مَدَني چينل باندې د امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مقبُولِ عام سِلسِله مَدَني مُذاکَره براهِ راست نشر کيږي. چه په هغې کښې امير اَهلِسُنَّت **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالاتو د جواباتو ورکولو په ذريعه د ژوند د هرې شُعبې مُتَعَلِّق رهنمائي کوي. ټول **عاشِقانِ رَسُول** پخپله هُم د دې مَدَني مُذاکَرو د کتلو او اوريدلو نِيَّت اوکړئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ.

# د مَدَني مُذاکرے بَرَکت

۞ د حيدر آباد (سندھ) د علاقے پھُلَيلي پار اوسيدونکي يو اسلامي ورور چه د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښے د شامليدو نه مخکښے هغه په ګناهونو کښے اخته وو هغه هره ورځ د يوے مَدَني مُذاکرے سعادت حاصلول شروع کړو ۞ د مَدَني مُذاکرو په بَرَکت د هغه په زړه کښے ورځ په ورځ د ګناهونو نه نفرت پيدا کيدل، او د نيکو سره مَحبَّت پيدا کيدل شروع شو. ۞ د مَدَني مُذاکرو په بَرَکت د هغه په کِردار او د ژوند په انداز کښے تبديلي راتلل شروع شو. ۞ د مَدَني مُذاکرو په بَرَکت ئے په سُنَّتو باندے د عمل جذبه پيدا شوه ۞ د مَدَني مُذاکرو په بَرَکت ئے په زړه کښے د مَدَني کارونو کولو شوق هُم پيدا شو.

اے بیمارِ عِصیاں تُو آجا یہاں پر گُناہوں کی دیگا دَوا مَدَنی ماحول
گنہگارو آؤ، سِیَہ کارو آؤ گُناہوں کو دیگا چُھڑا مَدَنی ماحول
پِلا کر مَئے عشق دیگا بَنا یہ تمہیں عاشِقِ مُصْطَفٰے مَدَنی ماحول
(وسائلِ بخشش مُرمَّم، ص۶۴۸)

دے خوا راشه اے د ګناهونو بيماره در به کړي د ګناهونو دَوا مَدَنی ماحول
ګنهګارانو راشئ، خطاکارانو راشئ خلاص به مو کړي د ګناهونو دا مَدَنی ماحول
د عشق جام به په تاسو اوسکي جوړ به مو کړي عاشِقِ مُصطَفیٰ مَدَنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## حُرمت والا څلور میاشتے

واقعي رَجَبُ الْمُرَجَّب ډیره بابرکته میاشت ده. دا د حُرمت والا هغه څلورو میاشتو کښے یوه میاشت ده چه د هغے شان و عظمت په قرآن و حدیث کښے بیان شوے دے. چنانچه د الله پاك ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ﳔ فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ (پ10، التوبة:36) | [مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِیمان: بے شکه د میاشتو شمیر د الله په نِزد دولس میاشتے دي د الله په کتاب کښے د کله نه چه هغه آسمانونه او زمکه جوړ کړي دي. په هغے کښے څلور حُرمت والا دي دا نیغ دین دے، نو په دے میاشتو کښے په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ. |

## د حُرمت والا میاشتو نومونه

حضرت سَیِّدُنا ابوبَکره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ بیان فرمائي: خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **حَجَّةُ الوَداع** په موقع خطبه ورکړه، د خطبے په دوران کښے ئے ارشاد اوفرمائیلو: زمانه په خپل هُم هغه **هَیْئَت** [یعني حالت] باندے ګردش کوي په کوم [**هَیْئَت**] چه زمکه او آسمانونه پیدا کړے شوي وو، په کال کښے دولس میاشتے دي چه په هغو کښے څلور حُرمت والا دي، درے پرله پسے **ذُوالْقَعْدَة، ذُوالْحِجَّة** [او] **مُحَرَّم** او د قبیلۀ مُضَر والۀ **رَجَب** کومه

چه د **جُمادَی الْاُخریٰ** او **شَعبان** په مینځ کښے ده.[1]

د دے حدیثِ پاك په شَرح کښے رجب "**قبیلۀ مُضَر**" طرف ته د منسوب کولو وجه داسے ذِکر کړے شوي ده چه: **یو قول** دا دے چه: قبیله مُضَر والؤ به د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** ډیر زیات عزت و تعظیم کولو. **دویم قول** دا دے چه: قبیلۀ رَبِیعه والؤ به **رَمَضانُ الْمُبارَك** د حُرمت په میاشتو کښے شمیرله او قبیلۀ مُضَر والؤ به **رَجَبُ الْمُرَجَّب** د حرمت میاشت ګڼړله، ځکه نبـي کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے ته "د قبیلۀ مُضَر والؤ رجب" نوم ورکړو او د مُضَر والؤ د تَعَـیُّن صحیح کیدل ئے په خپل دے فرمان "**کومه چه د جُمادَی الْاُخریٰ او شَعبان په مینځ کښے ده**" کښے ښکاره کړو.[2]

## د حرمت والؤ میاشتو کښے د ګناهونو نه خصوصي منع کول

د حُرمت د میاشتو په باره کښے چه کوم آیتِ مبارَکه ذِکر کړے شوے دے، د هغے لاندے په تفاسیرو کښے دي چه په هغه آیتِ مبارَکه کښے چه د کوم ظُلم نه منع راغلي ده د هغه ظُلم نه مراد د الله پاك د نافرمانئ والا کارونه کول، او د هغه د فرمانبردارئ والا کارونه پرېښودل دي.[3]

حضرت سیّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما فرمائي چه الله پاك په هغه دولسو میاشتو کښے څلورو میاشتو ته خصوصیت ورکړے دے او د هغو حُرمت ته ئے عظمت

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الخلق، باب ما جاء فی سبع ارضین، 376/2، حدیث: 3197

[2]... لطائف المعارف، ص 132

[3]... درمنثور، التوبة، تحت الآیة: 187/36،4۔تفسیر طبری، التوبة، تحت الآیة: 365/36،6، رقم: 16710۔

ورکړے دے او په هغه میاشتو کښے ئے ګناه، ګناهِ عظیم قرار کړې دي. (1)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه حُرمت والؤ میاشتو کښے ګناه کول عظیمه ګناه ده، او په هغه حُرمت والؤ میاشتو کښے د رجب میاشت هُم شامله ده، نو مونږ ته هُم پکار دي چه همیشه د ګناهونو نه ځان ساتو او بیا دے میاشتو کښے خو خاص طور ځان د ګناهونو نه بچ ساتو. راځئ چه! د دے میاشتے د احترام کولو او په دے کښے د ګناهونو د بچ کیدلو په بَرَکتونو مشتمل یو حکایت واورو:

## د رَجَب احترام او د هغے انعام

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَمِیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہۡ په خپل مایه ناز تالیف فیضانِ سُنَّت (جلد اوَّل) صفحه 1355 کښے یو حکایت بیانوي چه د حضرت سَیِّدُنا عِیسٰی رُوحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام د وخت واقعه ده چه یو سړے د ډیرے مودے نه په یوه ښځه عاشِق وو. یو ځل هغه په خپله محبوبه باندے قابو اوموندله، د خلقو ګڼړه ئے چه اولیدله نو اندازه ئے اولګوله چه هغوئي میاشت ګوري. هغه د هغه ښځے نه تپوس اوکړو چه خلق د کومے میاشتے سپوږمئ ګوري؟ هغے جواب ورکړو: "**د رَجَب.**" هغه حالانکه کافِر وو خو چه د رَجَب شریف نوم ئے واوریدو نو د ادب په وجه فوراً جُدا شو او د "ګنده کار" نه منع شو. حضرت سَیِّدُنا عِیسٰی رُوحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام ته حکم اوشو چه: زمونږه فلانکي بنده سره مُلاقات اوکړه. هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام تشریف یوړلو او د الله تعالیٰ حکم او د خپل

---

[1] ...تفسیر ابن ابی حاتم، التوبة، تحت الآیة:36، 46/5، رقم:10337۔

تفسیر طبری، التوبة، تحت الآیة: 36، 366/6، رقم: 16711

تشریف راوړلو وجه ئے ورته بیان کړه. دا ئے چه څنګه واوریدل نو د هغه زړه د اسلام په رڼړا روښانه شو او اِسلام ئے قبول کړو. (اَنِیسُ الوَاعِظِین ص۱۷۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو د رَجَب سپړلي اولیدل! د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** د تعظیم کولو په وجه چه یو کافِر ته د اِسلام دولت نصیب کیدے شي نو یو مسلمان چه د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** اِحترام اوکړي نو معلومه نه ده چه هغه ته به څه څه انعامونه نصیب کیږي! (فیضانِ سنّت جلد اوّل، ص۱۳۵۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د رَجَب میاشت څنګه تیرول پکار دي؟

مونږ ته د رجب میاشت څنګه تیرول پکار دي؟ راځئ چه په دے باره کښے یو څو مَدَني ګلونه واورو:

## نیکو کارونو کښے وخت تیرول پکار دي!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** هسے خو مونږ ته پکار دي چه ټول کال په نیکو کښے لګیا اوسو خو د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** په میاشت کښے خاص طور د نیکو اعمالو کولو کوشش کول پکار دي، ځکه چه دا حُرمت والؤ میاشتو کښے یوه میاشت ده او مشهور تابِعي بزرګ حضرتِ سَیِّدُنا ابو قَتادَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ اَعْظَمُ اَجْرًا فِي الْاَشْهُرِ الْحُرُمِ** یعني د حُرمت والؤ میاشتو کښے د نیك عمل اجر [یعني ثواب] زیات

شي.[1]

لِـهذا مونږ ته پکار ده چه خاص طور د رجب په میاشت کښے زیاتے نیکئ اوکړو، مونږ ته پکار ده چه لـمونځونه د جَمعے سره ادا کوو، خلقو ته د نیکئ دعوت او د ګناهونو نه د بچ کیدلو ترغیب ورکړو، په مَدرَسةُ الْمَدینه بالِغان کښے شرکت اوکړو، د سحر د لـمانځه نه پس والا مَدَني حلقه کښے شرکت اوکړو، قافله کښے سفر اوکړو، صدائے مدینه اولګوو، مَدَني مُذاکرو کښے شرکت اوکړو، هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښے د شروع نه تر آخرے پورے شرکت اوکړو، جمات کښے درس ورکړو یا ئے واورو، چوك درس ورکړو یا ئے وارو. غرض دا چه! دا ټول د نیکئ کارونه دي، مونږ ته پکار ده چه د رجب پوره میاشت بلکه ټول عُمر په هُم دے کارونو کښے د تیرولو کوشش اوکړو.

## د رَجَب روژے اونیسئ!

د رَجَب د رحمتونو او برکتونو حاصلولو یوه طریقه دا هُم ده چه په دے کښے ډیرے ډیرے روژے اونیولے شي، ځکه چه د رَجَب په میاشت کښے د روژو نیولو هم ډیر زیات فضائل دي، راځئ چه! د رَجَب د روژو نیولو په فضائلو مشتمل دوه حدیثونه واورو:

(۱) د حضرت سَیِّدُنا انس بن مالِك رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چه رسُولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: په جَنَّت کښے یو نهر دے چه هغے ته ''رَجَب'' وائي هغه د پئیو

[1] ...تفسیر بغوی، التوبة، تحت الآیة:36، 244/2

[یعني شودو] نه زیات سپین او د شهدو [یعني ګبین] نه زیات خوږ دے، چه څوك د رَجَب یوه روژه اونیسي الله تعالٰی به د هغه نهر نه هغه موړ کړي." (شُعَبُ الْاِیمان ج۳ ص۳۶۷ حدیث۳۸۰۰)

(۲) تابِعي بُزُرګ حضرت سَیِّدُنا ابو قِلابه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: "د رَجَب د روژه دارو د پاره په جَنَّت کښے یو مَحَل دے." (ایضاً ج۳ ص۳۶۸ حدیث۳۸۰۲)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه په رَجَب کښے د روژو نیولو ډیر اجر دے. مونږ له پکار دي چه مونږه هم روژے اونیسو او د دے میاشتے برکتونه حاصل کړو.

## د اِستِغفار کثرت کوئ!

د رجب د برکتونو حاصلولو یوه ذریعه دا هم ده چه په دے مبارکه میاشت کښے زیات اِستِغفار اوکړے شي. د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د رجب په میاشت کښے د اِستِغفار کثرت کوئ، بے شکه د دے په هر ساعت کښے الله کریم ډیرو ډیرو خلقو ته د اور نه خلاصے ورکوي. [1]

## د رجب وړومبۍ شپه په عبادت کښے تیره کړئ

د رجب په میاشت کښے کیدونکو نیکو اعمالو کښے یو دا هم دے چه کله د رجب د میاشتے وړومبۍ شپه راشي نو دا خاص طور په عبادت کښے د تیرولو کوشش

[1] ... مسند الفردوس، باب الالف، ذکر الاحادیث التی امر بها النبی امته۔۔۔الخ، 81/1، حدیث: 247

کوئ، د نفلونو او تلاوت کثرت کوئ، دُرُود و سلام لولئ او په مدني چینل باندې مدني مُذاکرې ګورئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه اوس رَجَبُ الْمُرَجَّب په پاره کښې د مکتوبِ عَطّار خلاصه واورو:

## مکتوبِ عطّار

اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ فرمائي: زما له طرفه، **د ټولو اسلامي ورونړو، اسلامي خویندو، د مَدارِسُ الْمَدینه او جامِعاتُ الْمَدینه استاذانو، طَلَبه، مُعَلِّماتو او طالِباتو** په خِدمتونو کښې د کعبه مُشَرَّفه نه ګېر چاپیره تاؤ شوې او ګُنبَدِ خَضرا ښکُلَوونکې د رَجَبُ الْمُرَجَّب، شَعْبانُ الْمُعَظَّم او رَمَضانُ الْمُبارَك د روژه دارو د بَرکتونو نه ډك سلام،

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ عَلٰى كُلِّ حَالٍ

ہو نہ ہو آج کچھ مرا ذکر حُضور میں ہوا
ورنہ مری طرف خوشی دیکھ کے مسکرائی کیوں (حدائقِ بخشش شریف ۹۷)

اَلْحَمْدُلِلّٰه یو ځل بیا د خوشحالو ورځې راتلونکي دي، د رَجَبُ الْمُرَجَّب میاشت ډېر زر راتلونکي ده. په دې مُبارکه میاشت کښې د عِبادت تُخم کرلے کیږي، په شَعْبانُ الْمُعَظَّم کښې د پښیمانئ په اوښکو د هغې اوبه خوَر کولے [یعني د اُوښکو اوبه ورکولے] کیږي او د رَمَضانُ الْمُبارَك په میاشت کښې د رحمت فصل ریبلے کیږي.

## د دریو میاشتو روژے

د رَجَبُ الْمُرَجَّب قدردانو! که په تَعلِیم و تَعَلُّم (یعني سبق وئیلو او ښودلو) او حلال کسب کښے مو څه رُکاوټ نه راځي، مور او پلار مو بے وجهے نه منع کوي او د چا څه حق تَلَفي هُم نه کیږي نو زر زر او ډیر زر مسلسل د درے میاشتو یا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د فرضو روژو سره د چا نه چه څومره کیدے شي د هغه هُمره نفلي روژو د پاره ملا اوتړئ، په پیشمني او روژه ماتي کښے د کم خوراك په ذریعه **د خیټے قُفلِ مدینه** هم اولګوئ. کاش! چه په هر کور کښے او زما په ټولو مَدارِسُ المَدینه او ټولو جامِعاتُ المَدینه کښے **د روژو سپرلي** راشي، بس د وړومبي رَجَب نه روژے نیول شروع کړئ.

## د رَجَب د وړومبو دریو روژو فضیلت

د **رَجَب** شریف د وړومبو درے ورځو د روژو د فضائِلو به څه وائے! د حضرت سَیِّدُنا **عَبدُالله** اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوایت دے چه: د سرکارِ مَدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "د رَجَب د وړومبۍ ورځے روژه د دریو کالو کَفَّاره ده او د دویمے ورځے روژه د دوو کالو او د دریمے ورځے د یو کال کَفَّاره ده، بیا د هرے ورځے روژه د یوے میاشتے کَفَّاره ده."[1]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1] ... جامع صغیر، ص۳۱۱، حدیث: ۵۰۵۱

اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائی: که لوستلي مو وي نو بیا هم دا دواړه رِسالے (۱) "**د کفن بیرته راتلل** مَع د رَجَب سپرلي" او (2) "**د آقا میاشت**" اولولئ. او هر کال په **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** کښے د فَیضانِ سُنّت د جِلد اوّل باب "**فَیضانِ رَمَضان**" هم ضرور لولئ. که کیدے شي نو د **عِیدِ مِعراجُ النَّبي** په نِسبت 127 یا 27 رِسالے یا د خپل وَس مُناسِب [کتاب] "**فَیضانِ رَمَضان**" هم تقسیم کړئ او ډیر زیات ثوابونه اوګټئ،

## جشنِ مِعراجُ النّبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

د **دعوتِ اسلامي** د طرف نه د رَجَب المُرَجَّب په اووِیشتمه شپه، د **جَشنِ مِعراجُ النَّبی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سلسله کښے کیدونکي اجتِماعِ ذِکر ونعت کښے ټول اسلامي ورونړه د شروعِ نه د آخِرے پورے شرکت کوئ او د اووِیشتم رَجَب روژه نیسئ او د شپیتو میاشتو د روژو د ثواب حقدار جوړیږئ.

رجب کی بہاروں کا صدقہ بنادے
ہمیں عاشقِ مصطفٰی یا الٰہی

په خاطِر د رَجَب د سپرلو کړے
مونږه جوړ عاشِقِ مُصطفٰی یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عطیات [یعني چنده] جمع کولو کښے حصه واخلئ

اَمیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ په خپل دے مکتوب کښے فرمائي: ټولو اسلامي وروڼړو او خاص طور د **جامِعاتُ الْمَدِینه** او **مَدارِسُ الْمَدِینه** د ټولو قاري صاحِبانو، اُستاذانو، ناظِمانو او طالب عِلمانو په خِدمتونو کښے زما ډېر زیات مَدَني عرض دے چه برائے کرم! (زما په ژوند هم او زما د مرګ نه پس هم) په زکوٰة، فِطره، د قُربانۍ څرمنے او په نورو مَدَني عطیاتو [یعني چنده] جمع کولو کښے پوره پوره حصّه اخلئ. (اسلامي خویندے دِ نورو اِسلامي خویندو او مَحارِمو ته د مَدَني عطیاتو ترغِیب ورکوي) قسم په خدائے! زه چه د هغه استاذانو او طالبِ عِلمانو په باره کښے واورم نو ډېر خوشحالیږم کومو چه خپل کلي یا ښار ته د تللو د خواهِش قرباني ورکړي وي او **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په خپلو جامِعاتو کښے تیروي او د خپل مجلِس د هدایت مُطابِق د مَدَني عطیاتو په بَستو [یعني د چندے سټالونو] باندے ذمه واري سنبالوي. الله پاك دِ مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.**اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په اجتماعِ خواجه غریب نواز کښے د شرکت کولو نِیَّت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د مکتوب خلاصه مونږه واوریدله، الله دِ اوکړي چه د اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د دے ارشاداتو مطابق مونږه هم د څه نه څه نفلي روژو نیولو سعادت حاصل کړو، او مدني

عطیات (یعني چنده/ فنډ) جمع کولو د پاره ښه ډیر ډیر کوشش کوونکو کښے شامل شو.

**اَلْحَمْدُلِلّٰه** د رجب شریف په شپږم تاریخ د **خواجۀ خواجګان، سُلطانُ الْهِنْد حضرت خواجه مُعینُ الدین چشتي اجمیري** رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د عُرس اهتمام کیږي، **اَلْحَمْدُلِلّٰه** د دعوتِ اسلامي په مدني ماحول کښے په ټوله دُنیا کښے په دے موقع په اهتمام سره د خواجه غریب نواز رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د ایصالِ ثواب د پاره قرآن خواني، مدني قافِلو کښے سفر او محفل نعت منعقد کیږي، چه مونږه ورته "**اجتماعِ خواجه غریبِ نواز**" هم وایو. په دے کښے د شریك کیدو نیت اوکړئ. په 27 رجب هم د دعوتِ اسلامي زیرِ اِهتِمام اجتماعِ معراج کښے پخپله هم شرکت اوکړئ او نورو ته هم د شریك کیدو دعوت ورکړئ او د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ.

## د قرآن ټیچر اَیپ تعارُف

**اَلْحَمْدُلِلّٰه** ستاسو خوږ مَدَني تحریك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنیا کښے د تبلیغِ دین د پاره د **107** نه زیاتو شُعبو په ذریعه د دِین په خدمت کښے مصروفِ عمل دے. د دعوتِ اسلامي مجلس آئي.ټي د"**Quran Teacher**" [قرآن ټیچر] په نوم موبائل ایپلي کیشن لاؤنچ کړے دے. د دے په ذریعه تاسو د **30** نه زیاتو دیني کورسونو کښے داخله اخستلو سره سره د خپلے داخلے اسټیټس هم چیك کولے شئ. نور دا چه د کورسونو مختصر تعارُف، خپل رجسټریشن کولو نه پس د خپل کلاس د سرګرمیانو

معلومات، د کورسونو متعلق تفصیلات او د مدرسةُ المَدینه آن لائن اَپ ډیټس هم حاصلولے شئ. نو زر تر زره په خپل موبائل کښے دا اَیپ انسټال کړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قَبْر و دفن مَدَنی ګلونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د قَبْر او دفن [یعني د مړي خخولو] باره کښے یو څو مَدَنـي ګُلونه د اوریدو سعادت حاصل کړو ❁ یو قَبْر کښے یو نه زیات مړي بے ضرورته خخول جائز نه دي او که ضرورت وي نو بیا داسے کولے شئ. (بهارِشریعت۱/۸٤٦، عالمگیری۱/۱٦٦) ❁ جنازه د قَبْر نه قبلے طرف ته ایښودل مُسْتَحَب دي چه مړے د قبلے طرف نه قَبْر ته کوز کړے شي. د قَبْر کُوز طرف [یعني ښپو طرف] ته ئے مه ګرځوئ او د سر طرف ئے [خخولو وخت کښے] مه مخکښے کوئ. (بهارِشریعت،۱/۸٤٤) ❁ د ضرورت مطابق دِ دوه یا درے او بهتره دا ده چه قوي او نیك سړي قَبْر ته کوز شي. ❁زنانه مړے دِ د هغے محارِم کوزوي یعني هغوئي، د چا سره ئے چه نکاح د همیشه د پاره حرامه وه لکه ورور، ځوئ، پلار وغیره، که دا نه وي نو نور خپلوان، که دا هُم نه وي نو پرهیزګارو باندې ئے کُوزه کړئ. (عالمگیری،۱/۱٦٦) ❁ زنانه مړے د کوزولو نه واخله تختے لګولو پورے په څه ټُوکي [یعني کپړه، څادر] پټ ساتئ. ❁ مړے چه قَبْر ته کوزوئ نو هغه وخت دا دُعا اُووائے: **بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ الله** (تنویر الابصار،۳/۱٦٦) ❁ قَبْر په کچه خښتو بند کړئ، که زمکه نرمه وي نو (د لرګي) تختے لګول هُم جائز دي. (بهارِشریعت،۱/۸٤٤) ❁ بیا پرے خاوره واچوئ، مُسْتَحَب دي چه د سر طرف نه پرے په دواړو لاسو درے ځله خاوره واچوي (جوهره،ص۱٤۱)، ❁ څومره خاوره چه د قَبْر نه راوتي وي د هغے نه پرے زیاته اچول مکروه دي. (فتاویٰ هندیة،۱/۱٦٦) ❁ قَبْر څلور ګوټے مه

جوړوئ بلکه بره وتلے جوړ کړئ لکه د اوښ کوپان، (خخولو نه پس) **قَبْر** باندے اوبه شيندل بهتر دي. **قَبْر** يو لويشت اوچت پکار دے يا معمولي شان زيات. (بهارشريعت،۱/۸٤٦ مُلَخَّصاً) ❁ د **قَبْر** خوا ته اذان کول د ثواب کار دے او د مړي د پاره ډير زيات فائده مند دے. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه ٥/٣٧٠ ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلکيانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بيان موضوع به وي **"د دِين د خدمت فضائل"**. لِهٰذا د **الله** تعالٰی د رضا د پاره راروان زيارت له هُم اجتماع کښے د حاضرئ نِيَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوکړئ. لاس اوچت کړئ او په زوره اُووائے. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښے د داخلیدو وخت کښے هُم، تر دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخکښے او كه ناست وو نو اودریدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَافِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمد صاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

**جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ**

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورے نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللہ پاک دے چې د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵